بسم الله الرحمن الرحيم

ستره محکمه

# جریده میزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

سه شنبه ۲۹ غویی ۱۴۰۵ هـ ش | ۲ ذو الحجة الحرام ۱۴۴۷ هـ ق | ۱۹ می ۲۰۲۶ م | مسلسله شمېره (۱۳٤)


**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسیر کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

## د سترې محکمې محترم رئیس او قاضي‌القضات کندز، بدخشان، بلخ، جوزجان او بغلان ولایتونو ته سفر وکړ

د سترې محکمې رئیس او قاضي‌القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب؛ چې د سترې محکمې د پلان او پالیسۍ رئیس مولوي محمد جمعه (فیضاني)، د قضائي تفتیش عمومي ریاست مرستیال حافظ مولوي عبدالولي (محمود) او د یاد ریاست قضائي غړي مولوي فقیر محمد (منیب) يې ملتیا کوله، د محاکمو د چارو د نظارت او لا بهبود، د محاکمو او نورو امارتي ادارو ترمنځ د همکارۍ او همغږۍ د تقویې، د هېوادوالو د ستونزو اورېدو او د ولایتي محاکمو د اړتیاوو د تشخیص او پوره کولو په موخه، د ۱۴۴۷ هـ ق کال د ذوالقعدة الحرام میاشتې په ۱۶مه نېټه، کندز، بدخشان، بلخ، جوزجان او بغلان ولایتونو ته سفر پیل کړ.

د سترې محکمې رئیس او قاضي‌القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په یاد سفر کې د هر ولایت د محاکمو له قضائي، اداري او نظامي مسؤولینو او منسوبینو سره وکتل، د محاکمو د تېرو فعالیتونو نظارت يې وکړ، د محاکمو اړتیاوې يې واورېدې او هېوادوالو ته د غوره خدماتو وړاندې کولو په موخه يې له هغوی سره تفصیلي خبرې اترې وکړې.

په دې سربېره محترم شیخ صاحب د هر ولایت د امنیتي، عدلي، اداري او نورو ادارو له مسؤولینو او منسوبینو سره هم وکتل، هغوی ته يې د امارتي ادارو ترمنځ د قوي همغږۍ او د اړتیا پر مهال له یو بل سره د اصولو په رڼا کې د لازمې همکارۍ هدایت وکړ.

محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب د محاکمو په ګډون د ولایتي امارتي ادارو مسؤولینو او منسوبینو ته د چارو د ښه‌والي، ستونزو ته د غوره رسېدنې او اړونده موضوعاتو په اړه لازمې لارښوونې او هدایات وکړل؛ په ادارو کې د اتحاد، یووالي او د اسلامي نظام د پیاوړتیا پر ارزښت يې ټینګار وکړ وویل، الحمدلله نن د ملک په ټوله خاوره اسلامي نظام حاکم دی او د کوم بهرني ځواک لاس‌وهنه په کې نشته.

محترم شیخ صاحب مسؤولینو ته هدایت وکړ، چې له ولس سره نرم، نېک او اسلامي چلند وکړئ، څو خلک د امن، هوساینې او داډ په فضا کې ژوند وکړي، ټول مسؤولین باید خپلو دندو او مسؤلیتونو ته په جدي ډول متوجه اوسي، هېچا ته اجازه نشته چې په خپل سر کوم مجرم ته سزا ورکړي، د مجرم او بندي سره دې ښه چلند او سلوک وشي، تر څو همدا مجرم سبا تر ازادۍ وروسته په ټولنه کې د اسلامي نظام او جامعې د ښېګڼې لپاره کار وکړي.

د سترې محکمې محترم رئیس او قاضي‌القضات شیخ صاحب زیاته کړه، مجرمین باید له ښه چلند وروسته اړوند ارګانونو ته وسپارل شي؛ تر څو د اسلامي شریعت له مخې ورته د جرم مطابق سزا وټاکل شي، له بندیانو او مجرمینو سره هر ډول ظلم، زیاتی او ناوړه چلند د منلو وړ نه دی او باید په کلکه ترې ډډه وشي، د ولس شتمنیو ته په پوره صداقت او احساس متوجه اوسئ، تر څو د الله تعالی رضا ترلاسه او د خلکو اړتیاوو ته پر وخت رسېدنه وشي.

دغه راز محترم شیخ صاحب د محاکمو مسؤولینو ته وویل، ټول مسؤولین په آزموینه کې قرار لرو، خو البته قاضیان په لویه آزموینه کې قرار لري، دا چې الله (جل‌جلاله) موږ ته دغه اسلامي نظام راکړی، دا لوی نعمت دی؛ باید شکر يې اداکړو، په ټول افغانستان کې اوس قوم پرستي، سمت پرستي او لسان پرستي ختمه شوې ده، شکر يې دا دی، چې موږ د الله (جل‌جلاله) نظام د دې ملک په وګړو باندې نافذ کړو او شرعي نظام عملي کول د محاکمو په وساطت کېږي؛ ځکه چې د مجرم ټوله دوسیه او دلایل قاضي ته سپارل کېږي.

په دې سربېره د سترې محکمې محترم رئیس او قاضي‌القضات د محاکمو مسؤولینو ته لاندې ځانګړي هدایات وکړل:

۱. د مسؤلیت مثال په جهنم باندې د پل صراط غوندې دی، که چېرته مسؤول په خپل مسؤولیت کوږ روان شو ( په ښه ډول يې ترسره نه کړ)؛ نو د قیامت په ورځ به د پل صراط په څېر ورته سخته وي.

۲. ترڅو مو چې په موضوع کې پوره څېړنه نه وي کړې او ډاډ مو نه وي حاصل شوی، فیصله به نکوئ، کله چې پوره ډاډ حاصل شو، بیا فیصله صادره کړئ.

۳. له مراجعینو سره باید ښه اخلاق وکړو، محکوم او محکوم علیه ته قناعت ورکړو، خپل عذر ورته بیان کړو، محکوم له ته هم توصیه وکړو، چې که تا محکمې ته د دروغو شاهدان راوستلي وي او یا دې جعلي اسناد جوړ کړي او په حقیقت کې ستا نه وي؛ نو محکوم بها مه اخله، محکوم علیه ته هم باید توصیه وشي، چې د مرافعه طلبۍ او تمیز طلبۍ حق هم لري.

٤. مرافعه محاکم د ابتدائیه محاکمو په سر مشرتوب لري، باید د ټولو ابتدائیه محاکمو له غړو او چارو پوره پوره نظارت وکړي، که د قضائي غړو ترمنځ همغږي موجوده نه وي، باید همغږي رامنځته کړي او د محاکمو ستونزو ته ژر او په خپل وخت رسېدنه وکړي.

۵. که په فیصله کې څومره نواقص موجود وو؛ باید ټول ابتدائیه محکمې ته په ګوته شي او هر نقض باید مدلل وي.

٦. مرافعه محکمې ته چې کله موضوعات راځي، اړوند دېوانونه باید د ابتدائیه محاکمو فیصلو ته د تائید په نظر وګوري، تر څو تائید شي، که چېرته يې نواقص درلودل، هغه ورته په ګوته کړو.

۷. د افغانستان عام خلک پر موږ حق لري، چې د دوی خدمت وکړو؛ دوی له موږ څخه امید لري، چې د مظلوم حق له ظالم څخه واخیستل شي او د ظلم مخنیوی وشي.

۸. مسؤول باید د خپلو مشرانو اطاعت وکړي، چې د شریعت موافق وي؛ ځکه چې د اسلامي نظام تحکم او د بقاء لپاره لویه ذریعه اطاعت دی.

۹. کوښښ وکړو، چې د چا سره ظلم ونکړو؛ ځکه چې الله (جل‌جلاله) هغه نظام ته چې ظلم کوي بقاء نه ورکوي.

۱۰. له بیت المال سره باید ډېر احتیاط وکړو؛ ځکه چې که بل هېڅوک د بیت المال د مصرف حساب راسره ونکړي، نو الله (جل‌جلاله) خو به حتمن حساب راسره کوي.

۱۱. هر ماتحت مسؤول باید د خپل مافوق مسؤول اطاعت وکړي.

۱۲. داسې اخلاق باید وکړو، چې غیر مسلم هم زموږ د اخلاقو له وجې متاثره شي.

۱۳. کوښښ کوئ چې د تهمت له ځایونو څخه ځان وساتئ، که هغه تهمت په ملاقاتونو، مېلمستیاوو او یا نورو ځایونو کې وي.

د سترې محکمې د محترم رئیس او قاضي‌القضات یاد لس ورځنی سفر د روان ۱۴۴۷ هـ ق کال د ذوالقعدة الحرام میاشتې په ۲۵مه نېټه پای ته ورسېد.

## محاکم امارت اسلامی افغانستان از آغاز فتح تا اخیر ربع سوم سال ۱۴۴۷ هـ ق (۱۱۲۱) موضوعات قتل را از طریق صلح حل و فصل کرده‌است

محاکم امارت اسلامی افغانستان، از آغاز فتح؛ تا پایان ربع سوم سال ۱۴۴۷هـ ق، در ۳۴ ولایات ملک به تعداد (۱۱۲۱) موضوعات قتل را با تلاش‌های ترغیبی مسؤولین محاکم مربوطه و با میانجی‌گری علمای کرام، متنفذین قومی و ریش‌سفیدان از طریق صلح، سازش (جورآمد) و پرداخت دیت حل و فصل کرده‌است.

ستره محکمهٔ امارت اسلامی افغانستان همواره تلاش میکند؛ تا عدالت الهی را تأمین کند، حق را به صاحب حق بسپارد، از ظلم جلوگیری نماید و شریعت اسلامی را در سراسر ملک تطبیق و تنفیذ کند.

همچنان محاکم همیشه تلاش می‌کنند؛ تا اختلافات، جنگ‌ها و سایر موضوعات میان شهروندان را از طریق صلح و سازش حل و فصل نمایند.

همین طور در این مدت، بر اساس حکم محاکم سه‌گانه و با اذن عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب (حفظه‌الله تعالی) بر (۱۲) قاتل نیز حکم الهی (قصاص) تطبیق شده است.

قابل یادآوری است، که اگر در موضوع قتل، یکی از شبهات شرعی پیدا شود یا موجود باشد؛ قصاص از نظر شرعی ساقط می‌گردد و موضوع به تعزیر، اخذ دیت یا صلح ارجاع می‌شود و از این راه‌ها حل و فصل می‌گردد.

**د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته**

**د عمر فاروق ﷺ په دوره کې قضاء:**

**لسمه برخه:**

**د هغې رسالې متن په لاندې توګه دی:**

۱ ــ بیهقي په السنن الکبری کې په (۲۰۵۳۷) نمبر حدیث کې وایي: موږ ته ابو عبدالله الحافظ خبر راکړ، چې موږ ته ابو العباس محمد بن یعقوب روایت وکړ، هغه وایي: موږ ته محمد بن اسحاق الصغاني روایت وکړ، هغه وایي: موږ ته ابن کناسة روایت وکړ، هغه وایي: موږ ته جعفر بن برقان د معمر بصري له قوله او هغه د ابوالعوام بصري له قوله روایت وکړ، چې عمر ﷺ ابو موسی اشعري ته داسې ولیکل: «بېشکه قضاء یو محکم فرض دی او یو پیروي کېدونکی سنت دی؛ نو کله چې یوه دعوه درته وړاندې شي، ښه يې درک کړه؛ ځکه داګټه نه لري چې حق خبره وشي خو عمل پرې ونه شي.
د خلکو تر منځ د خپلې څېرې، خپل مجلس او خپل قضاوت په واسطه مساوات وساته، تر څو شریف (د مقام خاوند) ستا لخوا د طرفدارۍ او ظلم تمه پیدا نه کړي او کمزوری ستا له انصافه ناهیلی نه شي.

اخذلیک: د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته، ۶۷ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحیم راشد

## د سترې محکمې د کارکوونکو چارو عمومي ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د درېیمې ربعې لنډ راپور

د سترې محکمې د کارکوونکو چارو عمومي ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په درېیمه ربعه کې لاندې عمده فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱- د اداري چارو د لا ښه تنظیم او مؤثریت په موخه، د (۱۴۰۵) مالي کال لپاره د سترې محکمې د تشکیل وړاندیز ترتیب او د منظورۍ لپاره د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) مقام ته وړاندې شوی دی.

۲- د (۲۴۰) قضاتو، اداري او خدماتي کارکوونکو تقرر او ترفیعات ترسره شوي دي.

۳- د (۲۸۰) قضاتو او کارکوونکو د تحصیلي اسنادو معلومات راټول او له اړوندو مراجعو سره شریک شوي دي.

۴- د استخدامي پروسو تر بشپړېدو وروسته (۵۰) جلده د سوانحو دفترونه ترتیب شوي دي.

۵- ټولټال (۳۷۰) رسمي اسناد، مکاتیب، فورمې (پ۲) او تحصیلي اسناد ثبت او تبادله شوي دي.

۶- د (۲۱۵) اداري او خدماتي کارکوونکو د اجراآتو د ارزونې په موخه رسمي مکتوبونه لېږل شوي او د ارزونې منظم جدولونه یې ترتیب او د ارزونې په حضوري غونډو کې فعاله ګډون او نظارت ترسره شوی دی.

۷- د مرکزي رئیسانو د ارزونې په غونډو کې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو اداري له استازو سره همغږي شوې ده.

۸- د مرکز او ولایتونو مرافعه محاکمو ته د ارزونې د پروسې د تطبیق په موخه لازم مکتوبونه لېږل شوي او په دې برخه کې ورسره لازمه همغږي شوې ده.

۹- د خالي بستونو د ډکولو لپاره د اسنادو راټولولو، د متقاضیانو ثبت، اجنډا جوړولو، د ازموینو تنظیم او د پایلو اعلان چارې په منظم ډول ترسره شوې دي.

۱۰- د استخدام په ټولو پړاوونو کې له اړوندو ادارو سره لازمه همکاري شوې ده.

۱۱- د کارکوونکو د دندو د واضح کولو په موخه د کاري لایحو د ترتیب او تنظیم په اړه اړین اجراآت ترسره شوي دي.

۱۲- د یو کال په موده کې (۱۹) اداري روزنیز پروګرامونه طرح او تطبیق شوي دي.

۱۳- د قضائي تخصصي جامعې د تشکیل مسوده ترتیب شوې او د منظورۍ لپاره به ژر د عالي مقام حضور ته وړاندې شي.

۱۴- د نهم پړاو تقنیني ستاژ پروګرام ته د یوه قضائي او یوه اداري کارکوونکي معرفي کول.

۱۵- د ملکي خدمتونو انستیتیوت له لوري د نظارت او مراقبت پروګرام ته د (۴) رئیسانو او آمرینو معرفي کول.

۱۶- د راپور لیکنې او عملیاتي پلان پروګرام ته د (۷) تنو کارکوونکو معرفي کول.

۱۷- د کابل ښاري ابتدائیه محکمې یو قضائي غړی د لوړو زده کړو لپاره خصوصي پوهنتون ته معرفي شوی دی.

۱۸- د اداري پروسو د ساده‌سازۍ اړوند اجراآت ترتیب او د سترې محکمې مرکزي ریاستونو او د کابل او پروان مرافعه محاکمو ته لېږدول شوي دي، دا بهیر د ظرفیت لوړونې او اجراآتو ارزونې ریاست تر نظارت لاندې پرمخ وړل شوی دی.

۱۹- د کمپیوټر د اساسي مهارتونو په برخه کې یوه مهمه روزنیزه برنامه د اجرائیوي او امنیتي چارو عمومي ریاست اړوند منسوبینو ته تطبیق شوې ده.

## د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د درېیمې ربعې لنډ راپور

د سترې محکمې امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په درېیمه ربعه کې لاندې عمده فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱ ــ د ریاست لهخوا د مجاهدینو د اړتیاوو د پوره کېدو او د چارو د لا ښه تنظیم په موخه له بېلا بېلو امارتي ادارو سره پرله پسې استعلامونه او رسمي وړاندیزونه تبادله شوي، چې له امله یې ګڼ شمېر موارد پر وخت حل او یا د حل کېدو په حال کېدلو دي.

۲- د اداري چارو د لا ښه تنظیم، د ستونزو د راکمولو او د تصمیم نیونې د چټکتیا په موخه، له اړوندو مسؤولینو سره منظمې اونیزې غونډې ترسره شوې؛ په دغو غونډو کې د روانو چارو ارزونه، د ستونزو تشخیص او د حل لارې چارې په تفصیل سره څېړل شوې دي.

۳- د چارو د اصلاح، همغږۍ او د احتمالي ستونزو د مخنیوي په موخه له علماء کرامو سره هم په دوامداره توګه مشورتي غونډې ترسره شوې؛ چې د شرعي اصولو په رڼا کې د چارو د سمون لپاره مهمې لارښوونې تر لاسه شوې دي.

۴- د مشرتابه عالي مقام احکام، فرامین او هدایات په منظم ډول د ملک ټولو محاکمو او اړوندو مجاهدینو ته لېږل شوي، تر څو د هغوی د دقیق تطبیق ترڅنګ د پوهاوي کچه هم لوړه شي.

۵- د امنیتي قطعاتو د تجهیز، پیاوړتیا او د هغوی د اړتیاوو د پوره کولو په موخه پراخ لوژستیکي فعالیتونه ترسره شوي دي؛ د سترې محکمې د مرکزي محافظتي قوماندانۍ په شمول د ملک د ټولو ولایتونو د محاکمو محافظتي قطعاتو ته ټولټال (۱۰۵۵) قلمه بېلابېل توکي خریداري، اکمال او توزیع شوي، چې په کې لوژستیکي، تجهیزاتي، تعمیراتي، تسلیحاتي، مفروشاتي، البسوي، مخابراتي، قرطاسیه، نور خوراکي او غیر خوراکي مواد شامل دي.

۶- د امنیتي او اجرائیوي چارو د دوام او د وسایطو د فعال ساتلو په موخه، د محروقاتو په برخه کې هم پراخ اقدامات ترسره شوي دي؛ چې ټولټال (۱۸۷,۹۲۵) کیلو مایع ګاز، (۲۳,۸۳۰) لیټره پټرول او (۲,۹۰۰) لیټره ډیزل خریداري، اکمال او اړوندو قطعاتو ته توزیع شوي دي.

۷- د بشري سرچینو د منظم مدیریت او د تشکیلاتي جوړښت د پیاوړتیا په موخه، د (۶۸۸) محافظینو په اړه لازم اداري اجراآت ترسره شوي دي، چې په دې اجراآتو کې تبدیلۍ، تقررۍ، د رتبې لوړوالی (ارتقاء قدم)، د سوانحو ترتیب او ثبت او د هویت کارتونو جوړول شامل دي.

۸- د نظامي محاکمو د احکامو د تطبیق په برخه کې د جلب، احضار او محبوسینو د تنظیم چارې په منظم او دقیق ډول ترسره شوې دي.

## د سترې محکمې دعوت او ارشاد ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د درېیمې ربعې لنډ راپور

د سترې محکمې دعوت او ارشاد ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په درېیمه ربعه کې لاندې عمده فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱- هره ورځ د سهار له لمانځه وروسته د سترې محکمې د محافظتي قطعې مجاهدینو ته د قرآنکریم تفسیر او ترجمه شوې ده.

۲- هغو کارکوونکو ته چې لیک او لوست نه لري، د لمانځه الفاظ، شپږ کلمې، نوراني قاعده، د قرآنکریم زده کړه او نور اړین مسایل تدریس شوي، هغو کارکوونکو ته چې لیک او لوست لري، په تجوید سره د قرآنکریم زده کړه او نور دیني او شرعي احکام ور ښودل شوي دي.

۳- هره ورځ د ماپښین تر لمانځه وروسته د سترې محکمې د ټولو ریاستونو کارکوونکو ته د امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت لخوا د ورکړل شوي درسي نصاب؛ نیم ساعت درس تدریس شوی دی.

۴- د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) د فرمان مطابق د امربالمعروف او نهي عن المنکر قانون، فرمانونو، حکمونو، هدایاتو او لارښوونو جریده، د لارښوونې کتاب، د شرعي نظام په استحکام کې د اطاعت اغېزې، د لمانځه د اقامې په اړه فرمان او توصیې او د بدو رواجونو د مخنیوي په اړه فرمان تدریس شوي دي.

۵- په هره اونۍ کې دوه ځلې د سترې محکمې ټولو غړو ته اصلاحي بیان شوی او د سترې محکمې د محافظتي قطعې مجاهدینو ته په بېلابېلو وختونو کې د نظامي درسونو اړوند کتابونو تدریس شوي دي.

۶- درې ځله د سترې محکمې مرکزي ریاستونو نظارت شوی؛ هغوی ته د لا ښه فعالیتونو ترسره کولو لپاره نېکې سپارښتنې شوې دي.

۷- د سترې محکمې محترمو شیوخ کرامو، رئیسانو، آمرینو، قاضیانو او قضائي غړو ته درې مذاکراتي غونډې جوړې شوې دي.

۸- درې ځله د کابل ولایت مرافعه، وثایقو، قضائي زده کړو، ښاري ابتدائیه، نشه‌یي توکو او نظامي محاکمو، د حقوقو عمومي ریاست او د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست اړوند منسوبینو نظارت شوی او هلته د اصلاحاتو په موخه ځانګړې جلسې جوړې شوې دي.

## د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د درېیمې ربعې لنډ راپور

د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په درېیمه ربعه کې لاندې عمده فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱. د قضاء او ولس (۴) خپرونې، ثبت، جوړې او د سترې محکمې د رسمي ادرسونو له لارې نشر شوې دي.

۲. د قضاء مجلې یوولسمه ګڼه ترتیب، ډیزاین، چاپ؛ په مرکز او ولایتونو کې اړوند ادارو ته تکثیر شوې ده.

۳. د میزان جریدې ۹ ګڼې (له ۱۲۱ ګڼې څخه تر ۱۲۹ مې) چاپ؛ په مرکز او ولایتونو کې اړوند ادارو تکثیر شوې دي.

۴. د ملک د محاکمو د فعالیتونو د ښه انعکاس په موخه (۴۶۰) خبرونه ترتیب او نشر شوي دي.

۵. د هجري قمري میاشتې مطابق د محاکمو او نورو امارتي ادارو د اداري اجراآتو د ترتیب په موخه د رؤیت هلال مرکزي هیئت (۳) خبرتیاوې ترتیب، ډیزاین او نشر شوې دي.

۶. د محاکمو د قضائي فعالیتونو اړوند (۱۱۲) انفوګرافیک جوړ، ډیزاین او د سترې محکمې د رسمي آدرسونو له لارې نشر شوي دي.

۷. د ملک محاکمو د فعالیتونو د ښه انعکاس په موخه د «ستره محکمه په اونۍ کې» (۴۸) خپرونې په څلورو ژبو [پښتو، دري، عربي او انګلیسي] ثبت، جوړې او نشر شوې دي. ۸. د سترې محکمې اړوند مسؤولینو امارتي او شخصي موټرو ته (۳۵) قطعې کارتونه ترتیب او توزیع شوې دي.

۹. د ۱۴۴۷ هـ ق کال د (۳) میاشتو کالیزه ترتیب، ډیزاین او د سترې محکمې پر رسمي ادرسونو نشر شوې ده.

۱۰. د ورځنۍ نېټې (۹۰) ډیزاینونه جوړ او د سترې محکمې پر رسمي ادرسونو نشر شوي دي.

۱۱. له رسنیو سره غوره او پر وخت همغږي شوې ده.

۱۲. د سترې محکمې د محترم رئیس او قاضي القضات شیخ صاحب سراج الاحکام في معاملات الاسلام (۸) ټوکه کتاب کمپوز، ډیزاین او په لوړ صحافت سره (۸۰۰۰) جلده چاپ شوی.

۱۳. (۱۰) جلده قوانین، د سترې محکمې (۱۷) جلده درسي نصاب او متحدالمآلونه، (۵۰۷) جلده بېلا بېل کتابونه، (۶۰۰۰) د کلینیک نسخې، (۲۱۱) جلده اصولنامې، (۸۰) جلده د داخلېدو او وتلو ټکټونه او د سترې محکمې د عالي مقام د دفتر عمومي ریاست، د سترې محکمې د مرکزي تمیز عالي ریاست، دعوت او ارشاد، دارالانشاء، تدقیق او مطالعاتو، د قضائي زده کړو، د قضاتو امنیتي قطعې، مالي او اداري چارو او د سترې محکمې نورو ادارو د اړتیا وړ (۴۵۷۸۰) پاڼې فوتو کاپي شوي دي.

۱۴. له بهرنیو چارو وزارت او نورو اړوند ادارو څخه د بیرون مرزي وثایقو او حقوقي موضوعاتو اړوند (۴۰۵) قطعې مکتوبونه ترلاسه او د اصولي اجراآتو لپاره اړوند مراجعو ته لېږل شوي دي.

۱۵. (۹۰) جلده کتابونه چې مراجعینو د مطالعې په موخه له ځان سره وړي وو؛ بېرته قضاء کتابتون ته راوړل شوي او د کتابتون د مؤظف کس لخوا ترې تسلیمي اخیستل شوې ده.

۱۶. (۳۸۵) عنوانه کتابونو ثبت او اندراج شوي.

۱۷. (۱۵۲) جلده کتابونه د امانت په ډول متقاضیانو ته ورکړل شوي دي.

۱۸. (۱۶۰) جلده کتابونه له متقاضیانو څخه را ټول او یا یې موده تمدید شوې ده.

## محاکم ولایت فاریاب طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۴۱۴) دوسیه، به تعداد (۳۵۶) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌های ولایت فاریاب طی دو هفته (از ۱/ ۱۱/ ۱۴۴۷هـ ق الی ۱۵/ ۱۱/ ۱۴۴۷هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۴۱۴) دوسیه، به تعداد (۳۵۶) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۷۷) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۸۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۹۹) دوسیه فیصله شده، (۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۱۹) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۵۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۹) دوسیه فیصله شده، (۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت فاریاب به تعداد (۳۵۶) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت تخار طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۴۹۴) دوسیه، به تعداد (۱۲۰) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌های ولایت تخار طی دو هفته (از ۱/ ۱۱/ ۱۴۴۷هـ ق الی ۱۵/ ۱۱/ ۱۴۴۷هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۴۹۴) دوسیه، به تعداد (۱۲۰) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت تخار به (۳۲۰) دوسیهٔ حقوقی رسیدگی صورت گرفته‌است.

از آن جمله در رابطه به (۲۱۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۳) دوسیه فیصله شده و (۴۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده‌است.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت تخار به (۱۷۴) دوسیهٔ جزائی رسیدگی صورت گرفته است.

از آن جمله در رابطه به (۶۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۰۰) دوسیه فیصله شده و (۱۲) دوسیهٔ دیگر مکتوبی مسترد گردیده‌است.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت تخار به تعداد (۲۵۳) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د کابل ښار د سندونو او وثيقو د ثبت شپږو آمريتونو په دوو اونيو کې (۱۱۵۲) بېلابېلې وثيقې اجرا کړې دي

د کابل ښار د سندونو او وثيقو د ثبت شپږو آمريتونو په دوو اونيو کې (له ۱/ ۱۱/ ۱۴۴۷ هـ ق څخه تر ۱۶/ ۱۱/ ۱۴۴۷ هـ ق) نېټې پورې (۱۱۵۲) بېلابېلې وثيقې اجرا کړې دي؛ چې جزئيات يې په لاندې ډول دي:

**۱- د سندونو او وثيقو د ثبت لومړۍ حوزه:**

د سندونو او وثيقو د ثبت لومړۍ حوزې په دوو اونيو کې (۵۵) نکاح خطونه، (۹) زوجيت خطونه او (۹۹) نورې بېلابېلې وثيقې اجرا کړې دي.

**۲- د سندونو او وثيقو د ثبت دويمه حوزه:**

د سندونو او وثيقو د ثبت دويمې حوزې په دوو اونيو کې (۵۱) نکاح خطونه، (۱۱) قبالې، (۷) زوجيت خطونه او (۱۲۸) نورې بېلابېلې وثيقې اجرا کړې دي.

**۳- د سندونو او وثيقو د ثبت دريېمه حوزه:**

د سندونو او وثيقو د ثبت دريېمې حوزې په دوو اونيو کې (۹۶) نکاح خطونه، (۲۲) زوجيت خطونه، (۸) قطعې زوجيت خطونه او (۱۴۱) نورې بېلابېلې وثيقې اجرا کړې دي.

**۴- د سندونو او وثيقو د ثبت څلورمه حوزه:**

د سندونو او وثيقو د ثبت څلورمې حوزې په دوو اونيو کې (۶۸) نکاح خطونه، (۴۲) قبالې، (۵) زوجيت خط او (۶۵) نورې بېلابېلې وثيقې اجرا کړې دي.

**۵- د سندونو او وثيقو د ثبت پنځمه حوزه:**

د سندونو او وثيقو د ثبت پنځمې حوزې په دوو اونيو کې (۸۶) نکاح خطونه، (۸) قبالې، (۶) زوجيت خطونه او (۱۰۹) نورې بېلابېلې وثيقې اجرا کړې دي.

**۶- د سندونو او وثيقو د ثبت شپږمه حوزه:**

د سندونو او وثيقو د ثبت شپږمې حوزې په دوو اونيو کې (۴۸) نکاح خطونه، (۱۶) قبالې، (۹) زوجيت خطونه او (۶۳) نورې بېلابېلې وثيقې اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت هرات طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۹۳۶) دوسیه، به تعداد (۶۸۶) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌های ولایت هرات طی دو هفته (از ۱/ ۱۱/ ۱۴۴۷هـ ق الی ۱۵/ ۱۱/ ۱۴۴۷هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۹۳۶) دوسیه، به تعداد (۶۸۶) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۴۷۸) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۰۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۷۹) دوسیه فیصله شده، (۲۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۱۶) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۰۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۴۳) دوسیه فیصله شده، (۱۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش تجارتی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۵۵) دوسیهٔ تجارتی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۱۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۸) دوسیه فیصله شده، (۱۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت هرات به تعداد (۶۸۶) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت سرپل طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۸۹) دوسیه، به تعداد (۱۰۷) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌های ولایت سرپل طی دو هفته (از ۱/ ۱۱/ ۱۴۴۷هـ ق الی ۱۵/ ۱۱/ ۱۴۴۷هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۱۸۹) دوسیه، به تعداد (۱۰۷) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۱۰) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۶۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۱) دوسیه فیصله شده، (۱۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۳۴) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۵۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۲) دوسیه فیصله شده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت سرپل به تعداد (۱۰۷) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د زابل ولايت محاکمو په دوو اونيو کې (۱۷۳) دوسيو ته پر رسېدنه سربېره، (۶۴) وثيقې هم اجرا کړې دي

د زابل ولايت د مرافعه، ښاري ابتدائيه، نظامي او د ټولو ولسواليو ابتدائيه محاکمو په دوو اونيو کې (له ۱ / ۱۱/ ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۱۵ / ۱۱/ ۱۴۴۷هـ ق) نېټې پورې (۱۷۳) دوسيو ته پر رسېدنه سربېره، (۶۴) وثيقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئيات يې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په يوه مياشت کې (۲۲۳) حقوقي دوسيې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم يو شمېر دوسيې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۴۱) دوسيو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۵۵) دوسيې فيصله شوې، (۱۳) دوسيې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په يوه مياشت کې (۷۰) جزائي دوسيې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم يو شمېر دوسيې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۳۷) دوسيو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۶) دوسيې فيصله شوې، (۱) دوسيه مکتوبي مسترد شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**د وثيقو برخه کې:**

د زابل ولايت محاکمو په يوه مياشت کې (۶۴) بېلابېلې وثيقې هم اجرا کړې دي.

## د خوست ولايت محاکمو په يوه مياشت کې (۳۸۹) دوسيو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۳۱) وثيقې هم اجرا کړې دي

د خوست ولايت مرافعه، ښاري ابتدائيه، اختصاصي او د ټولو ولسواليو ابتدائيه محاکمو په يوه مياشت کې (له ۱/ ۱۰/ ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۳۰/ ۱۰/ ۱۴۴۷هـ ق) نېټې پورې (۳۸۹) دوسيو ته رسېدنه کړې او (۲۳۱) وثيقې يې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئيات يې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په حقوقي برخه کې د (۱۳۷) دوسيو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۶۴) دوسيې فيصله شوې، (۲۰) دوسيې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په جزائي برخه کې د (۵۸) دوسيو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۰۵) دوسيې فيصله شوې، (۵) دوسيې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**د وثيقو برخه کې:**

د خوست ولايت محاکمو په يوه مياشت کې (۲۳۱) بېلابېلې وثيقې هم اجرا کړې دي.

مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## د کندهار ولایت پنجوايي ولسوالۍ ابتدائیه محکمې مسؤولینو په هڅو (۷۰) کلنه شخړه حل شوه

د کندهار ولایت پنجوايي ولسوالۍ ابتدائیه محکمې مسؤولینو په ډېرو هڅو؛ د قومي مشرانو او سپین‌ږیرو په منځګړیتوب، د دوو کلیو ترمنځ د ویالې په سر (۷۰) کاله مخکې رامنځته شوې شخړه او جنجال، په ۱۹/ ۱۱/ ۱۴۴۷ هـ ق حل او فصل کړه. یاده موضوع ابتدائیه محکمې ته له راجع کېدو وروسته په غور او دقت وڅېړل شوه؛ دواړه طرفونه د سولې له لارې د شخړې حل ته وهڅول شول او دوی هم ومنله. وروسته یاده موضوع د ابتدائیه محکمې، نورو امارتي ادارو مسؤولینو او قومي مشرانو په شتون کې حل او د دوو قومونو ترمنځ لویه شخړه رسماً پای ته ورسېده.

## د سترې محکمې اړوند جنوب لوېدیځ زون قضائي مرستیال د نیمروز ولایت له محاکمو څخه لیدنه وکړه

د سترې محکمې اړوند جنوب لوېدیځ زون قضائي مرستیال محترم شیخ نورالله (منیر) صاحب؛ د نظامي معاونیت د قضائي غړي مولوي محمد هاشم (الهام)، مفتي فضل الله (عاصم)، د جنوب لوېدیځ زون قضائي تفتیش غړي شیخ محمد لعل، مولوي عطاء الرحمن، د جنوب لوېدیځ زون د تمیز عالي ریاست تجارتي دېوان مفتي مولوي مغفور الله او یو شمېر نورو غړو په ملتیا، د ۱۴۴۷ هـ ق کال د ذوالقعدة الحرام میاشتې په ۲۰ مه ۲۱ مه او ۲۲ مه نېټه د نیمروز ولایت له مرافعه، ښاري ابتدائیه، نظامي او اختصاصي محاکمو څخه لیدنه وکړه.

په پیل کې محترم شیخ نور الله (منیر) صاحب او ورسره مل پلاوي د نیمروز ولایت ټولو قضائي، اداري خدمتي او نظامي مسؤولینو سره په یوه غونډه کې وکتل.

وروسته محترم شیخ منیر صاحب ګډونوالو ته وویل، د محاکمو د قضائي، اداري او نظامي برخو ټول مسؤولینو او منسوبین باید ورسپارل شوې دندې په بشپړه امانتدارۍ او اخلاص ترسره کړي، د مؤکلینو او دعوی د اړخونو ستونزې او مسایل باید د اسلامي احکامو په رڼا کې حل کړي.

محترم شیخ منیر صاحب زیاته کړه، محاکمو ته راجع شوې دوسیې باید د پرېکړې د دلیلونو تر څېړلو او بشپړېدو وروسته عاجلې فیصله کړو، که په دې برخه کې ځنډ وکړو، ګناه ګڼل کېږي.


د لیدنې په دوام قضائي مرستیال او ورسره مل هیئت د یادو ټولو محاکمو د ریاستونو دېوانونو او ادارو څخه له نږدې لیدنه وکړه؛ د دوی چارې یې وکتلې، اړتیاوې یې واورېدې او د حل ډاډ یې ورکړ.

د سترې محکمې قضائي مرستیال وویل، د دې لیدنې موخه د عدلي او قضائي ادارو د چارو بیاکتنه، د همغږۍ پیاوړتیا، د څارنې پروسې ښه کول او د خلکو موضوعاتو ته په اغېزمنه توګه رسېدنه وه؛ هغه ټینګار وکړ، چې مسؤولین مکلف دي چې په بشپړ اخلاص او صداقت د عدالت د تأمین په روحیه خلکو ته خدمت وکړي.

دغه راز په دې غونډه کې د سیمه‌ییزو ادارو، عدلي او قضائي ادارو ترمنځ د همغږۍ پیاوړتیا، د قضیو د حل پروسې چټکتیا، په اداري او قضائي چارو کې د روڼتیا ډاډمنول، د شرعي او قانوني عدالت ښه پلي کول، خلکو ته د وړاندې کېدونکو خدماتو د کیفیت ښه کولو په اړه هر اړخیز بحث او د نظرونو تبادله وشوه.

د سترې محکمې دغه لوړ رتبه پلاوي د خپل سفر په دوام، د نیمروز ولایت له مرستیال والي، امنیه قوماندان، استخباراتو او علماوو شورا له رئیسانو سره لیدنه وکړه؛ د محاکمو او نورو امارتي ادارو ترمنځ پر ښې همغږۍ، همکارۍ او اړوند نورو موضوعاتو یې بحث او خبرې وکړې.

د لیدنې په پای کې د یاد ولایت مسؤولینو له ورغلي هیئت څخه خوښي څرګنده کړه؛ چې د دوی حال اخلي، ستونزې یې اوري او د حل په موخه یې اړوند مراجعو ته سپارښتنه کوي.



تاریخ : ١٤٤٦/١/١٨ هـ ق

## فرمان و توصیه‌های عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی در مورد اقامهٔ نماز

**نماز نسبت به همه اعمال مورد پسند الله تعالی است:**

عبدالله بن مسعود (رضي‌الله تعالی عنه) می‌فرماید : من از نبی کریم (صلی‌الله تعالی علیه وسلم) پرسیدم که کدام عمل نزد الله پاک بسیار پسندیده است ؟ نبی کریم (صلی‌الله تعالی علیه وسلم) فرمود: ادای نماز در وقت آن . باز هم پرسیدم که کدام عمل نزد الله پاک بسیار پسندیده است؟ باز برایم گفت: نیکی کردن به پدر و مادر؛ بار سوم باز هم پرسیدم، بعد برایم گفت: جهاد فی سبیل الله.[۱]

**توصیه دوم**

کاملاً کوشش کنید که نمازهای‌تان را با جماعت اداء نمایید، تاحد امکان نمازهای جماعت را ترک نکنید؛ زیرا رسول الله (صلی‌الله تعالی علیه وسلم) فرموده‌است: در یک قریه یا دشت که سه نفر باشد و نماز را باجماعت اداء نمی‌کند ، بالای آنان شیطان مسلط میشود.[۲]

**نماز کامل، نماز با جماعت است:**

نماز کامل در اسلام، نماز جماعت است، علماء اتفاق نظر دارند که نماز جماعت نسبت به نماز تنهایی بیست و هفت درجه فضیلت دارد.[۳]

جماعت سبب محبت میان مسلمانان می‌گردد:

نماز جماعت برای پیدا کردن محبت و همدلی میان همدیگر و برای یادگیری کسانی که نمی‌دانند، طریقه بسیار خوب است.[۴]

**در حالت ترس هم جماعت ترک نمی‌شود:**

نماز یک فریضه الله پاک است که در حالت ترس از دشمن نیز الله تعالی به نماز امرکرده‌است که یک بخش لشکر نگهبانی می‌کند و بخش دیگر آن با جماعت نماز را اداء می‌نماید، بعد بخش دیگر نگهبانی می‌کند. بناءً اگر حالت ترس نباشد، بسیار ضرور است که نماز با جماعت اداء گردد.[۵]

**ترک نماز جماعت، نشانه منافقت است:**

رسول الله (صلی‌الله تعالی علیه وسلم) برای کسی که آذان را می‌شنود و به جماعت حاضر نمی شود، این کار را بی وفایی، نادانی، کفر و منافقت دانسته‌است.[۶]

**رسول الله (صلی‌الله تعالی علیه وسلم) اراده سوختاندن خانه‌های ترک کنندگان جماعت را کرده بود:**

در روایت آمده است: رسول الله (صلی الله تعالی علیه وسلم) می‌فرماید: سوگند من به ذاتی است که نفس من در اختیار اوست، همین اراده و قصد کرده‌ام که امر کنم چوب جمع‌آوری گردد ، بعد من یک فرد را امر کنم که به مردم نماز دهد و من نزد افرادی بروم که نمازها را (بدون عذر) در خانه‌های شان ادا می‌کنند و به جماعت حاضر نمی‌شوند و خانه‌های آنان را آتش بزنم.[۷]

**اداء نمودن نماز با جماعت واجب است:**

چنانچه ترک جماعت نشانه منافقت دانسته شد، با ترک آن شیطان بالای مسلمانان مسلط می‌گردد، رسول الله (صلی‌الله تعالی علیه وسلم) اراده سوزاندن خانه‌های ترک کنندگان نماز را کرده بود، به همین سبب فقهای ما (رحمهم الله تعالی) نماز با جماعت را واجب دانسته‌اند که ترک کردن آن گناه است و شخص ترک کننده فاسق و مستحق تعزیر می‌گردد.[8]

---

١ ــ عن ابى عمرو الشيباني يقول: اخبرنا صاحب هذه الدار، وأومأ بيده الى دار عبد الله قال : سالت النبي صلى الله عليه وسلم : اي العمل احب الى الله : قال : ( الصلاة على وقتها) قال: " برالوالدين " قال: ثم اي : قال: الجهاد في سبيل الله " قال: حدثني بهن ، ولو استزدته لزادني رواه البخاري رقم الحديث (٥٧٣٦)ج٢ ص٨٨٢ الحقانيه .
ومن ذهب الى الغزو وفاتته صلاة فقد ارتكب سبعمانة كبيرة . الفتاوى البزازية على هامش الهندية (۳۴۹/۶)

٢ – عن ابى الدرداء ، قال : سمعت رسول الله — صلى الله عليه وسلم ، يقول : " مامن ثلاثة في قرية ولابدو لاتقام فيهم الصلاة إلااستحوذ عليهم الشيطان فعليک بالجماعة فانما ياكل الذئب القاصية رواه ابوداود رقم الحديث (۵۴۷)

٣ - عن عبد الله بن عمر: أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال:" صلاة الجماعة تفضل صلاة الفذ بسبع وعشرين درجه " رواه البخاري رقم الحديث (۶۴۵)

٤ – ومن حكمها نظام الألفة وتعلم الجاهل من العالم ( قوله نظام الألفة) بتحصيل التعاهد باللقاء في أوقات الصلوات بين الجيران بحر. والألفة : بضم الهمزة اسم الائتلاف ح عن القاموس. الدر المختارو حاشية ابن عابدين (ردالمحتار) (۵۵۱/۱) ط دارالفكر بيروت (۴۰۸/۱)ط المكتبة الحبيبية .

٥ – واذا كنت فيهم فاقمت لهم الصلاة فلتقم طائفة منهم معک ولياخذوا اسلحتهم فاذا سجدوا فليكونوا من ورائكم ولتات طائفة اخرى لم يصلوا فليصلوا معک وليتاخذواحذرهم واسلحتهم الاية . ( سورة النساء آية ١٠٢)
عن عبدالله بن عمر رضي الله عنهما قال : غزوت مع رسول الله صلى الله عليه وسلم قبل نجد ، فوازينا العدو، فصاففنا لهم
" فقام رسول الله صلى الله عليه وسلم يصلي لنا، فقامت طائفة معه تصلي وأقبلت طائفة على العدو، وركع رسول الله صلى الله عليه وسلم بمن معه وسجد سجدتين ، ثم انصرفوا مكان الطائفة التي لم تصل ، فجاءوا فركع رسول الله صلى الله عليه وسلم بهم ركعة وسجد سجدتين ثم سلم فقام كل واحد منهم ، فركع لنفسه ركعة وسجد سجدتين " رواه البخارى رقم الحديث(٩٤٢) ابواب صلاة الخوف
عن ابن عمر، قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ، " في صلاة الخوف أن يكون الإمام يصلِي بطائفة معه ، فيسجدون سجدة واحدة وتكون طائفة منهم بينهم وبين العدو، ثم ينصرف الذين سجدوا السجدة مع أميرهم ، ثم يكونون مكان الذين لم يصلوا ، ويتقدم الذين لم يصلوا فيصلوا مع أميرهم سجدة واحدة، ثم ينصرف أميرهم وقد صلى صلاته ، ويصلي كل واحد من الطائفتين بصلاته سجدة لنفسه ، فإن كان خوف اشد من ذلک فرجالا اوركبانا" قال: يعنى بالسجدة الركعة. رواه ابن ماجة رقم الحديث (١٢٥٨) باب ماجاء في صلاة الخوف .

٦ – عن سهل عن أبيه ، عن رسول الله صلى الله عليه وسلم أنه قال : الجفاء كل الجفاء والكفر والنفاق ، من سمع منادي الله ينادي بالصلاة يدعوا إلى الفلاح ، ولايجيبه " رواه احمد في مسنده رقم الحديث (۱۵۶۲۷)(۳۹۰/۲۴) كذا في الترغيب والترهيب ( ١٦٧/١) المكتبة الرشيدية

٧ – وعن ابي هريره رضى الله عنه قال: قال رسول الله عليه وسلم (والذي نفسي بيده لقد هممت ان امربحطب فيحطب، ثم آمر بالصلاة فيؤذن لها ، ثم آمر رجلا فيؤم الناس ، ثم أخالف الى رجال وفي رواية : لايشهدون الصلاة فأحرق عليهم بيوتهم، والذي نفسي بيده ، لو يعلم أحدهم أنه يجد عرقا سمينا، أومرماتين حسنتين لشهد العشاء) رواه البخاري رقم الحديث (۶۴۴)

٨ – بقي هنا شيء وهوأن صلاة الجماعة واجبة على لراجح المذهب أو سنة مؤكدة في حكم الواجب كما في البحر وصرحوا بفسق تاركها وتعزيره ، وأنه يأتم ، الدرالمختار وحاشية ابن عابدين _(رد المحتار)(۴۵۷/۱) دارالفكر

میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc١٤٤٣@gmail.com

www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳